


سقراط د لرغوني يونان ستر فيلسوف او عالم او د غربي فلسفې بنسټ اېښودونکی

**سقراط:** نوموړی د لرغوني يونان ستر فيلسوف او عالم او د غربي فلسفې له بنسټ ايښودونکو څخه وو، چې له ميلاده "۴٦۹" کاله وړاندې د «آتن» په ښار د "ايلوپيک" په کوڅه کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

پلار يې «سوفرونکوس» نومېده، مجسمه جوړونکی وو او له دېرو به يې بُتان جوړول. سقراط هم دپلار نه تر لومړني زده کړو وروسته تيرې توږلې او بُتان به يې ترې جوړول.

مور يې «فيناريتې» نومېده، دېره پوهه او عالمه ښځه وه. ويل کېږي چې، مور يې په وړکتون (کودکستان)کې د نورو خلکو ماشومان روزل او پالل خو ورسره، ورسره يې د خپل زوی سقراط ښه پالنه هم وکړه.

سقراط د مکتب او ښوونځی له وختونو ژور اندونه او فکرونه کول او له انساني چاپېريال نه پورته يې اندو فکر تر کايناتو رسېدلای وو. نوموړی د عقل، پوهې او حکمت ښوونکی بلل کيږي.

سقراط د ځانګړې پوهې، بيان، منطق، سمو او اغيز لرونکو خبرو د فلسفې پلار ګڼل کيږي. د سقراط فلسفه پر انصاف، مينه، نېکۍ او ځان پېژندنه ولاړه وه، هغه پدې اند وو چې د نړۍ ټولې بدۍ له ناپوهۍ او جهالت څخه مينځته راځي، ځکه يې د بدۍ پر وړاندې نېکي د خپلې فلسفې د بنسټ په توګه وړاندې کړې ده. له سقراط څخه هيڅ متن يا کتاب نه دی پاتې، او د هغه خبرې، زده کړې او تعليمات د هغه دوو مهمو زده کوونکو «افلاطون» او «ګزينفون» نړۍ ته وروپېژندل.

**د سقراط خبرې ډېرې ګټورې، مهمې، اغيزناکې او د کاڼو کرښې دي، چې يو څو يې ستاسو لوستونکو مخې ته ږدم.**

- سقراط باور درلود چې پوهه ترټولو لوی څواک دی چې موږ يې لرو. هغهٔ د حقيقت موندلو هڅه وکړه او تل به يې ويل: "زه يوازې پوهيږم چې زه هيڅ نه پوهيږم."

- که غواړې چې هستي او وجود وپېژنې نو ځان وپېژنه.

- د خلکو د رازونو، نه لوڅول، د کرامت او شرافت نښه ده.

- خپل مور او پلار سره هغسې چلند وکړه چې څرنګه يې له خپلو اولادونو څخه هيله لرې.

- په نړۍ کې يوازينی خير او ښه والی، پېژندنه او علم دی؛ او يوازينی بدي او بدمرغي ناپوهي او جهالت دی.

- په ژوند کې داسې شېبې مخ ته راځي، چې يوازې په زړورتيا به ورسره مخامخ کيږې.

- تاسو کولی شئ هر ارمان او ارزو ولرئ چې تاسو يې غواړئ، خو تمه مه کوئ چې دا ټولې به ترسره شي.

- تر څو چې يو سړی ژوندی وي؛ د هغه لپاره دا ستونزمنه ده چې په دې ټکي پوه شي؛ څوک بايد مړ شي ترڅو تلپاتې شي.

- پاکه او سپيڅلې پوهه په ناپاکو زړونو کې نه ځايږي.

- هوښيار او عاقل سړی کم غږيږي او ډېر اوري.

- که انسان بدي پېژاندلای بدي به يې نه کوله.

- د غوسې پر مهال زغم او صبر ډېر سخت، خو ډېر ارزښتناک کار دی.

- د غوسې غوره درملنه چوپتيا او خاموشي ده.

- د پوه او عقلمن انسان پېژندنه د قهر او غوسې په وخت کې څرگندېږي.

- په وخت خبرې کول او په وخت چوپتيا او خاموشي، د پوهې او عقل نښه ده.

- د اندو فکر آزادي يو اړين څيز دی.

- حقيقت او واقعيت د ذهن لخوا رامينځته کيږي موږ کولی شو د خپل ذهن په بدلولو سره واقعيت بدل کړو.

- هلته چې حقيقت نه وي، هر څه بدو زشت او بې ارزښته دي.

- په شر او فساد کې چې کوم خوند دی، ورته مه خوشحالېږئ او په دې يوازې اندو فکر وکړئ چې خوند نه پاتې کېږي او هغه څه چې پاتې کېږي شر او فساد دی.

- د نېکي ښوونکي هغه کسان نه دي چې د نېکۍ ښوونه او تدريس کوي، بلکې هغه کسان دي چې په خپله نېک دي.

- انسان تل د نېکمرغۍ او خوشالۍ په لټه کې دی.

- د يوې بريا خوند د سلو ماتو او ناکاميو په خوند ارزي.

- په یوه هېواد کې ظلم، استبداد، زیاتوالی او افراطیت هغه وخت رامنځ ته کیږي چې تر اندازې زیاته آزادي ولري.

- بېوسه او غریب هغه نه دی چې پېسې نه لري، بېوسه او غریب هغه دی چې هیلې نه لري.

- ستاسو تر زړه هیڅوک هم، تاسو ته ډېر نږدې او رښتینی نه دی، له هغه چا لرې واوسئ چې ستاسو زړه یې نه غواړي.

- د اخلاقو لومړني فضیلتونه دا دي: پوهه او حکمت، زړورتیا، منځلاري، انصاف او د خدای(ج) بنده ګي.

- له مور او پلار سره هغسې چلند وکړئ چې له خپلو اولادونو یې تمه لرئ.

- ادب او علم خپل شعار وګرځوه، چې د زمانې غوره اهل شې او له نېکو خلکو سره یو ځای شې.

- هوښیار خلک له هرڅه او هرچا څخه زده کوي، منځني خلک له خپلو آزماېښتونو او تجربو څخه زده کوي، ناپوه او احمق خلک د مخه په ټولو ځوابونو پوهیږي.

- په هر کار کې د پایلې په اړه اندو فکر کول د ژغورنې لامل ګرځي.

- سیاست یو هنر دی، چې د هغه لپاره د خدایي استعداد او وړتیا ترڅنګ پراخ لوست او مطالعې ته اړتیا ده.

- له دښمن سره هم باید سپارښتنه او مشوره وشي تر څو د دښمني کچه یې په ډاګه شي.

- د نفس د تزکیې ټولې لارې چارې له پوهې او علم څخه تېرېږي.

- پرځای خبرې کول او پر ځای چوپتیا او خاموشي د پوهې نښه ده.

- په سترګو لیدل مهم نه دي په پوهې او عقل لیدل مهم دي.

- له مړینې او مرګ څخه تیښته ستونزمنه نه ده، له بدۍ څخه تیښته ستونزمنه ده، ځکه چې بد له مرګ څخه ګړندۍ کېږي.

- تر ټولو خوږ مرګ د هغو کسانو دی چې لوی کارونه یې سرته رسولي وي او د دوی لوې هیلې او ارمانونه پوره شوي وي.

- خلک هر یو هیله او ارمان لري؛ یو پیسې غواړي، یو ښایست غواړي او بل ویاړ او عزت غواړي، خو زما په اند ښه ملګري له دې ټولو ښه دي.

- یوازې یو خېر شتون لري چې هغه پوهه ده او یوازې یو شر شتون لري چې هغه ناپوهي او ناداني ده.

- ژوند لنډ او فاني دی خو هنر اوږد او تلپاتې دی.

- بې آزمایښه او بې تجربې ژوند د ژوند کولو ارزښت نلري.

- ښکلا د لږ وخت ظلم دی.

- ښکلا پرته له عزت، سپېڅلتیا او فضیلت څخه لکه یو ښایسته ګل دی، خو بې بویه او بې عطره.

- هغه دولت هېڅکله پر ځای نه پاتې کېږي چې چاته سزا پکې واورول شي، خو ور نه کړل شي.

- پر مجرمانو باندې باید غصه او قهر ونه کړو، بلکې باید هغوی ته وښیو چې څنګه د تیر وخت عملونه تکرار نه کړي.

- هغه ژوند چې نه څېړل کیږي د ژوند کولو ارزښت نلري.

- فلسفه له کتاب څخه نه، له ژوند څخه سر چینه اخلي.

- له مرګه مه وېرېږئ، ځکه چې تریخوالی یې په همدې وېره کې دی.

- له مرګه هېڅ وېره نشته، ځکه دا یو ارام خوب دی چې په کې د ګډوډې خیال او تصور نشته.

- د یو هېواد چلولو لپاره داسې چا ته اړتیا ده، چې د سیاست له رمزونو سره بلد وي او د هېواد بېړۍ د وخت له توپاني سیند څخه خوندي راوباسي.

- ډارېدونکي خلک دیوالونه او دړې او دروازې خپل دښمن ګڼي او له هر شي او هر چا څخه وېره لري.

- واده وکړئ، که ستاسو ښځه ښه وي تاسو به خوشحاله شئ که بده وي تاسو به یو فیلسوف شئ.

- د یو چا د شخصیت پر ځای  د هغه له بدن سره مینه کول د ځارویو کار دی.

- د ژوند درد او مصیبت په غم کې نه، په رسوایۍ او بدنامۍ کې دی.

-  د یوه ملت د له منځه وړلو لومړی ګام، د هغه د حافظې پاکول دي.

-  علم او ادب خپل شعار وګرځوه، چې د زمانې غوره اهل او له نېکانو سره یو ځای شې.

-  کله چې له تا سره خبرې وشي، لومړی غوږ شه، بیا اندو فکر وکړه او ورپسې پریکړه وکړه.

- د ټولو دښمنانو نه زیات باید خپل تر ټولو نږدې دښمن ته چې ژبه ده، پام وکړې.

- بشپړ انسان هغه دی چې دښمنان یې له هغه څخه په امان کې وي، نه دا چې ملګري او دوستان یې ترې وډار شي.

- نېکمرغه انسان هغه څوک دی چې هر ناسم او ناوړه کار ترسره کړي، نوې تجربه او آزمایښت ترې زده کړي.

- لومړی خپل اهلیت ثابت کړه بیا د ډاډ او اعتماد هیله ولره.

- تکل او اراده لرونکي کسان غوسې او دښمنۍ ته لار نه ورکوي.

- د هر کار د پایلې په اړه اند و فکر کول، نېکمرغي ده.

- د یوې بریا خواږه په پرتله د سلو ماتو ترخه، ارزښت لري.

- هیڅ ځواک تل پوره او ثابت نه پاتې کېږي.

- د خوښۍ راز د نورو زیاتو شیانو په لټه کې نه دی بلکې دا د لږو شیانو نه خوند اخیستل دي.

- تاسو باید پوه شئ چې خوښي د تمې په لوړولو سره نه ترلاسه کیږي، خو خوښي باید د محدودې خوښۍ سره د قناعت له لارې ترلاسه شي.

- د غوسې دوا چوپتیا ده.

- لومړنۍ پاملرنه او دقت، له وروستۍ پښېمانۍ څخه مخنیوی کوي.

- کوم کور کې چې ښه کتابونه نه وي، داسې کور په حقیقت کې د کور ویلو وړ نه دی، دا خو د ژوندیو مړو هدیره او مړستون دی». دی وایي:

فیلسوف ایمرسن وایي: «ښه کتاب، بې‌سارې دوست ته ورته دی، چې تل پر ښې لارې د تګ سپارښتنه او مشوره درکوي».

کارلایل فکر کوي: «د ګټورو کتابونه یوه ټولګه د نن زمانې یو ښه پوهنتون ته ورته دی».

- ټولنه هغه وخت پوه او حکمت تر لاسه کوي چې کتابونه پکې زیات وي.

- کله چې تاسو په ژوند کې لوړ شئ، ستاسو ملګري پوهیږي چې تاسو څوک یاست. خو کله چې ته په ژوند کې رانسکته شې په ځمکه وغورځې هغه وخت ته پوهېږې چې ستا ملګري څوک ول.

- خپله ټوله مینه په یو ځل خپل دوست او ملګري ته مه ښکاره کوئ؛ ځکه چې کله هغه لږ بدلون ویني، هغه اندو  فکر کوي چې تاسو یې دښمن یاست.

***

**په ادبي مینه او درنښت: انجنیر عبدالقادر مسعود**